**د افغانستان اسلامی امــارت**
**د کانونو او پټرولـیم وزارت**

# د کانونو او پټرولیم وزارت اوونیزه




ګڼه: ۳۷

نېټه: ۰۸/زمری/۱۴۰۱



# د قطر هیواد له سفیر سره د کانونو او پټرولیم سرپرست وزیر لیدنه



کانونو او پټرولیم وزارت

د کانونو او پټرولیم وزارت سرپرست شیخ الحدیث شهاب الدین دلاور د قطر هیواد له سفیر سره د دغه وزارت د معینانو په شتون کې ۱۴۰۱/۵/۴ نېټې په خپل کاري دفتر کې ورسره وکتل .په دغه لیدنه کې د کانونو او پټرولیم وزارت سرپرست شیخ الحدیث شهاب الدین دلاور د قطر سفیر او مل پالوي ته د ښه راغلاست تر څنګ یې د افغانستان او قطر ترمنځ د دوستانه او ښو اړیکو یادونه وکړه او ویې ویل، چې قطر هیواد په ښه او بد حالتو او د قوي اړیکو په درلودلو سره د یو دوست هیواد او ورور په شان یې په دوامداره توګه له موږ سره همکاري کړې. چې د قطر هیواد دوامداره مرستې او همکارۍ به د افغانستان اسلامي امارت او وګړي هیڅکله هېرې نه کړي .همدارنګه د قطر سفیر د کانونو او پټرولیم وزارت له مشرتابه څخه د دوی د مېلمه پالنې له کبله مننه وکړه او ویې ویل: د قطر دولت او خلک د اسلامي امارت او د افغانستان له خلکو او په ځانګړې توګه د کانونو له وزارت چې د هیواد په اقتصادي پرمختګ کې مهم رول لوبوي هر ډول مرستې او همکاریو ته چمتو دي. څو وکولای شي د خلکو په مرسته او همکارۍ له بهرنیو لاسوهنو او ملاتړ پرته یو پرمختللی او پر ځان بسیا افغانستان ولري .په وروستیو کې د کانونو او پټرولیم سرپرست وزیر وویل: نن ورځ افغانستان ملي حاکمیت او ټولیز امنیت لري او دوی غواړي چې قطري شرکتونه د هېواد په بېلا بېلو برخو کې پانګونه وکړي.

د کانونو او پټرولیم
وزارت اوونیزه

# له زلزله ځپلو سره د MJAM شرکت مرستې




د کانونو او پټرولیم وزارت سرپرست وزیر شیخ الحدیث شهاب الدین دلاور په کابل کې د چین له سفیر ښاغلي وانګ یو، د MJAM شرکت له رئیس او مل پالوی سره د طبعي پېښو پر وړاندې د مبارزې معین ښاغلي مولوي شرف الدین، د یاد وزارت معینانو او یو شمېر ریسانو په ګډون پنجشنبه د ۵/۶/ ۱۴۰۴ نېټې د وزارت په مقام کې سره وکتل.

نوموړې برنامه د قران عظیم الشان په څو مبارکو ایاتونو سره پېل شوه، وروسته بیا د کانونو او پټرولیم سرپرست وزیر د چین هیواد سفیر، د MJAM شرکت رئیس، د طبعي پېښو پر وړاندې د مبارزې معین ګډون والو ته ښه راغلاست وویل او زیاته یې کړه، په لومړیو کې د افغانستان او چین تر منځ د دوستانه او دوه اړخیزو اړیکو پیاوړتیا زموږ لپاره مهمه ده او بیا یې د چین هیواد او د MJAM شرکت له مرستو د مننې کولو تر څنګ یې وویل: مخکې هم یاد شرکت د 60 زره امریکایي ډالرو په ارزښت چې په کې وریجې، غوړي او اوړه شامل وو د زلزلې له زیانمنو شویو خلکو سره مرسته کړې وه. ورپسې ښاغلي شیخ صاحب وویل : ډېر فرصتونه شته چې افغانستان د چین د دولت او خصوصي سکټور د همکارۍ د جلبولو لپاره لېوالتیا لري. هغه د لوګر د مسو عینک پروژې او د امو سیند پروژې ته اشاره وکړه او یاده یې کړه چې باید شته فرصتونو ته په پام سره دوه اړخیزې همکارۍ باید یادو پروژو او ورته نورو پروژو پورې محدودې نه شي. سرپرست وزیر وویل، افغانستان بې شمېره کانونه لري او د خصوصي سکټور د پانګونې د جلبولو لپاره ښه فرصتونه شته او چین په دې برخه کې اساسي رول لوبولی شي.

ورپسې په کابل کې د چین سفیر ښاغلي وانګ یو د کانونو او پټرولیم وزارت له رهبرۍ څخه د مننې کولو تر څنګ وویل: د زلزلې په رامنځته کېدو سره د چین حکومت او د دغه هېواد خلک ډېر متاثره شوي او د بشري مرستو د برابرولو پرېکړه یې وکړه. چې د MJAM شرکت لخوا د 60 زره امریکایي ډالرو په ارزښت خوراکي توکي چمتو شوي وو. او یادونه یې وکړه چې چین به د دوست او ګاونډي په توګه تل د افغانستان له خلکو ترڅنګ ولاړ وي.

بیا د طبیعي پېښو پر وړاندې د مبارزې معین مولوي شرف الدین د چین هېواد له مرستو مننه وکړه او زیاته یې کړه، چې چین تل د افغانستان د خلکو تر څنګ ولاړ دی، نوموړي له دغه هېواد څخه د پوهنې او نورو برخو کې د مرستې غوښتنه وکړه. د مرستو د ویش په اړه چې د ملي او نړیوالو سوداګرو او نورو هیوادونو په استازیتوب، دوی د وزارت لخوا تاکل شوي کمیټې او ټیم له لورې معلومات وړاندې کړل.

په پای کې د MJAM شرکت رئیس له زیانمنو شویو خلکو سره د تېرو مرستو په اړه خبرې وکړې او د طبیعي پېښو پر وړاندې د مبارزې معین مولوي شرف الدین ته یې د 140 زره امریکایي ډالرو چک وړاندې کړ. د غونډې په پای کې د سرپرست وزیر صاحب لخوا د رسنیو پوښتنو ته ځوابونه وویل شول.

کانونو او پټرولیم
وزارت اوونیزه

# د هرات ولایت د ګذره ولسوالۍ د ګچو کان داوطلبي ترسره شوه



د کانونو او پټرولیم وزارت د هرات ولایت د ګذره ولسوالۍ د پیر سرخ سیمې د ګچو کان داوطلبي د سه شنبه ورځ په ۴ /۵/ ۱۴۰۱ نېټه په شفافه توګه د وزارت په مقام کې تر سره شوه .د کانونو او پټرولیم وزارت یاد کان مخکې د داوطلبۍ اعلان ته سپارلی و، چې نن موظف هیئت د هغو شرکتونو په شتون کې چې د پروپوزلونو ارزونه کې یې د داوطلبۍ شرایط پوره کړي وو، نوموموړي دواطلبی د یوې شفافې پروسې له مخې تر سره کړه . په نوموړې داوطلبۍ کې د عثمان فیضي غلیزای د کانونو د استخراج شرکت د رویالیټي په لوړ قېمت في ټن ۷۳۱ اوه سوه یو دېرش افغانیو په ارزښت ګټونکی اعلان کړ.



کانونو او پټرولیم وزارت اوونیزه

## د بغلان ولایت د دوو سیمو د ګچ ډبرو د کانونو دواطلبي



د کانونو او پټرولیم وزارت د بغلان ولایت د دوو سیمو د ګچ ډبرو کانونو د دواطلبي د ۱۴۰۱/۰۴/۲۸ نېټه د یاد وزارت په مقام کې په شفافه توګه ترسره کړه.

یاد وزارت د شیخ جلال او نېزار سیمو د ګچ ډبرو کانونه، چې مخکې اعلان ته سپارلي وو. د دواطلبي پروسه د پلان پالیسي معین شیخ الحدیث ضیاء الرحمن اریوبی په مشرۍ او د موظف هئیت او هغو شرکتونو په شتون کې چې د پروپوزلو په ارزونه کې د دواطلبي شرایط پوره کړي وو په شفافه توګه ترسره کړه.

په دغه دواطلبي کې سکاي آریا شرکت د شیخ جلال د کچ ډبرو پروژه د ۷۲۵ افغانیو او نیزار پروژه ۶۹۰ افغانیو په ارزښت ګټونکي شو.

## د کانونو د استخراج په پروژو کې د پانګونې فرصتونه




د افغانستان د کانونو او پټرولیم وزارت د ملي اقتصاد د ودې او د کانونو په پروژو کې د پانګونې په برخه کې د خصوصي سکتور د هڅونې په موخه، د هېواد په ټولو ولایتونو کې د کوچنیو کانونو د استخراج په برخه کې په شفافه، او اسانه توګه تاسو ته د قانوني لاسرسي زمینه برابره کړې ده.

کانونو او پټرولیم
وزارت اوونیزه

# خبرتیا

شنبه ۱۴۰۱/۱/۵ - ۱۲:۳۲




د کانونو او پټرولیم وزارت شکایتونو، ستاسې له نظرونو په استفادې د چارو د ښه ځارنې او تطبیق، ستاسې وړاندیزونو او رغنده نیوکو په موخه په مرکزي دفتر کې د شکایتونو صندوقونه نصب کړي. او د هېواد له ګوټ ګوټ څخه ټول خلک کولای شي خپل شکایتونه ثبت کړي. ستاسې شکایتونو ته د ځواب ویلو په موخه د وزارت د پلان او پالیسۍ معین ښاغلي شېخ ضیاء الرحمن اریوبي په مشرۍ کمیسیون جوړ شوی، چې یاد کمیسیون مکلف دی، چې ستاسې ټولو شکایتونو او وړاندیزونو ته هر څومره چې ژر کېږي ځواب ووایي

.یادونه: د شکایت په پاڼه کې د خپلې اړیکې شمیره ولیکئ او ډاډه اوسئ چې ستاسو هویت به خوندي وي.

د کانونو او پټرولیم
وزارت اوونیزه

# د کانونو او پټرولیم وزارت عواید




داسلامی امارت د فتحی څخه ورسته تر ۳۱چنګابن ۱۴۰۱ د یاد وزارت د مرکزی، ولایتي او د افغان ګاز تصدی څخه مجموعآ (۱۳۱۷۴۸۰۸۷۹۶) افغانی او (۹۴۶۵۰۰۰) امریکایی ډالرعواید راټول شوی دی.

د امتیاز خاوند: د کانونو او پټرولیم وزارت
مسوول مدیر: شمس الدین (مصلح)
ترتیب او تنظیم : استاد نجیب الله (رحیمي)
طرح او ډیزاین: محمد فرهاد (عبیدي) او مطیع الله (سحر)

ادرس: عبدالحق څلورلاري، کابل، افغانستان
د اړیکو شمیره: +93202304455
الکترونیکي پته: www.momp.gov.af
ایمیل ادرس: PR@momp.govaf